
**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## پنځم ټولگی



: چاپ ... ۱۳۹۰ هـ . ش.

Ketabton.com



ي اړه لري.
ه کلکه منع
کېږي.

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## پنځم ټولگی

**د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

## لیکوالان:

۱. محمد ظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر.
۲. سید انور میچن خیل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
۳. محمد غالب الله یار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت غړی.

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## د علومو اکاډمي:

سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.
ذکریا ملاتړ د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز علمي غړی.

## د کابل پوهنتون:

پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې استاد.

## پوهنې وزارت:

۱. سعدالدین شپون د پوهنې وزارت سلاکار.
۲. سیف الرحمن آشنا د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو ژبې د دیپارتمنت علمي غړی.
۳. نفیسه پوپلزۍ د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړې.
۴. احمد شفیق برنایار د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.
۵. بلقیس احمدي د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکې.

## د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټې:

ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلا کار.
د مولف مرستیال محمد سهراب دیدار.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:


- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

کمپوز او ډیزاین: میر محمد سهیل انصاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

شمېر ... مخ


١- لومړی لوست: ... ١-٢
٢- دوهم لوست: ... ٣-۴
٣- دريم لوست: ... ۵-٦
۴- څلورم لوست: ... ٧-٨
۵- پنځم لوست: ... ٩-١٠
٦- شپږم لوست: ... ١١-١٢
٧- اووم لوست: ... ١٣-١۴
٨- اتم لوست: ... ١۵-١٦
٩- نهم لوست: ... ١٧-١٨
١٠- لسم لوست: ... ١٩-٢٠
١١- يوولسم لوست: ... ٢١-٢٢
١٢- دولسم لوست: ... ٢٣-٢۴
١٣- ديارلسم لوست: ... ٢۵-٢٦
١۴- څوارلسم لوست: ... ٢٧-٢٨
١۵- پنځلسم لوست: ... ٢٩-٣٠
١٦- شپاړسم لوست: ... ٣١-٣٢
١٧- اووه لسم لوست: ... ٣٣-٣۴

۱۸- اتلسم لوست:.......... ۳۶-۳۵

۱۹- نولسم لوست:.......... ۳۸-۳۷

۲۰- شلم لوست:.......... ۴۰-۳۹

۲۱- یو ویشتم لوست:.......... ۴۲-۴۱

۲۲- دوه ویشتم لوست:.......... ۴۴-۴۳

۲۳- درویشتم لوست:.......... ۴۶-۴۵

۲۴- څلرویشتم لوست:.......... ۴۸-۴۷

۲۵- پنځه ویشتم لوست:.......... ۵۰-۴۹

۲۶- شپږ ویشتم لوست:.......... ۵۲-۵۱

۲۷- اوه ویشتم لوست:.......... ۵۴-۵۳

۲۸- اته ویشتم لوست:.......... ۵۶-۵۵

۲۹- نهه ویشتم لوست.......... ۵۸

۳۰- دېرشم لوست:.......... ۵۸




(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی لوست

## انار او بهي

**موخه:** د انار او بهي له انځورولو او پرداز ورکولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**

- د انار او بهي رنګونه څه توپير سره لري؟
- د انار په دننه کې کوم شيان لېدل کېږي؟



**ګران ښوونکی دې:**


پورتنی شکل د ټولګي په توره تخته انځور کړي. د مېوود څای پرځای کېدلو او پرداز ورکولو په هکله زده کوونکو ته څرګندونې وکړي او انځورونه دې د کتابچې په بوه څنډه کې اصلاح کړي.


**فعاليت:**

لومړی پورتنی شکل په تتو(خفيفو) خطو انځور کړئ او بيا په ډېره څېرکتيا سيوري او روښنايي د پرداز په واسطه په کې انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





## کورنۍ دنده:

په خپله خوښه یوه مېوه انځور او په نرم پنسل پرداز ورکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم لوست

## د انار او بهي رنګه کول

**موخه:** د انار او بهي د رنګونو او دهغه د رنګه کولو په لارو چارو پوهېدنه.

**پوښتنې:**

- د کوم رنګ سره ډېره مينه لرئ؟
- کوم رنګ جامې مو خوښېږي؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**

د رنګونو په اړه زده کوونکو ته څه نا څه څرګندونې وکړي او بيا دې د سکېچ او رنګه کولو لارې چارې ورو ښيي.

**فعاليت:**

زده کوونکي دې لومړی شکل په تتوکرښو انځورکړي او بيا دې په رنګه کولو پيل وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

یوه مېوه په خپله خوښه انځور او رنګه کړئ!

# دریم لوست
## لاسي کار

**موخه**: دچاپېریال له ساده موادو څخه دلاسي کار له جوړ ولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:




- د انار او بهي د لاسي کار په جوړونه کې له کومو موادو څخه ګټه اخلئ؟
- لاسي کار ستاسو په ژوند کې څه رول لري؟



**ښاغلوښووونکو**:
دلاسي کار د جوړ و لو له پاره دچاپېریال د موادو په هکله زده کوونکو ته په لنډه توګه څرګند ونې وکړئ!
دپورتني شکل دجوړولو په وخت کې لاژمه لارښوونه ورته وکړئ او که کاريې په درسي ساعت کې بشپړ نه شو نو هغه دې په کورکې بشپړ او ټولګي ته دې راوړي بيادې د ټولګيوالو ننداري ته وړاندې کړي.

**فعالیت**:
زده کوونکي دې دانار او بهي دلاسي کار په هکله ښه فکر وکړي او بيا دې دچاپېریال له موادو څخه دهغو په جوړولو پيل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**کورنۍ دنده:**

له خپلو لويانو څخه دلاسي کار په جوړولو کې پوښتني وکړئ!


# څلورم لوست

## سابه

**موخه**: د پنسل په مرسته د سبو له انځورولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**

- لاندېنې شکلونه په څه شي برجسته کوي؟
- دسابوخوړل دانسانانو په روغتیا څه اغېزه کوي؟



**گرانو ښوونکو!**


زده کوونکو ته دسبو د رنگونو په اړه څرگندونې وکړئ او بیا پورتنې شکلونه دټولگې په توره تخته انځور کړئ . دوی ته سپارښتنه وکړئ چې له کتاب او توري دړې څخه کار واخلي او خپل کارونه بشپړ کړي . تاسې ددوی کارونه ترپاملرنې لاندې ونېسئ!

**فعالیت:**

پورتنې شکلونه سکیچ او بیا پرداز ورکړئ !



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

یو بوټی په خپله خوښه انځور اوپه نرم پنسل پرداز ورکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم لوست


## د سابو رنګه کول

**موخه:** د سبو له رنګونو او رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې:**



- ستاسې په چاپېریال کې کوم سابه پیدا کېږي؟
- ستاسې د چاپېریال د سبو رنګونه څه ډول دي؟



**ښاغلي ښوونکي:**


دغو سبو په اړه چې ستاسې په چاپېریال کې پیدا کېږي زده کوونکوته څرګند ونې وکړئ؛ د انځورولو او رنګه کولو په وخت کې دوی ته لازمه لارښوونه وکړئ او رسمونه یې اصلاح کړئ!

**فعالیت:**

پورتنی شکل له سکېچ کولو وروسته په خپله خوښه رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

دسبو له ډلې څخه يو دلاسي کار په توګه جوړ او ټولګي ته يې راوړئ !



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## ونه

**موخه:** دونې له انځورولو او رنګه کولو سره آشناکېدل.

**پوښتنې:**



- ستاسې په چاپېريال کې څو ډوله ونې پيدا کېږي؟ نومونه يې واخلئ!
- په چاپېريال کې مو کوم شيان خوښېږي؟



**ښاغلو ښوونکو!**

د سوالو د ځوابونو له ويلو وروسته زده کوونکوته سم ځوابونه وو ايئ! دوی ته اجازه ورکړئ چې له ټولګي څخه دباندې ووځي او د چاپېريال له ونو څخه په خپله خوښه يوه ونه انځور کړي.


**فعاليت:**

زده کوونکي دې دښوونکي لارښوونې او د کتاب شکل په پام کې ونيسي او په خپله خوښه دې يوه ونه انځور او رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنی دنده:**
له خپل چاپېریال څخه یوه ونه انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم لوست

## پنسلي منظره

موخه: دخيالي شکلونو له انځورولو سره دزده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**



- هغه څه مو چې پخوا په فکر کې ګرځېدل نومونه يې واخلئ؟
- دڅه شي په باب فکر کوئ؟



**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکي د څو شېبو له پاره د خيالي انځورونو په اړه فکر کولو ته پرېږدي تر څو هغه شی چې ددوی په خيال کې ګرځي انځور کړي. تاسې د دوی پوښتنو ته سم ځوابونه و وايئ.




**فعاليت:**

زده کوونکي دې دڅو شېبو له فکر کولو وروسته هغه شکل په يو سپين کاغذ کې انځور کړي چې ددوی په خيال کې ورګرځي او بيا دې خپل انځور ته پرداز او ښکلا ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:**

يو انځور وکاږئ او ټولګي ته يې راوړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

## خيالي منظره

موخه: د تخيلي رسمونو له انځورولو او رنګه کولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**

- رنګونه په تخيل کې پيدا کولی شئ؟
- هغه رنګونه چې ستاسې په تخيل کې دي، په شکل کې يې پلي کولی شئ؟



**ښاغلي ښوونکی دې:**


د ټولګي په توره دړه يو تخيلي انځور وکاږي او زده کوونکي دې د تورې دړې او د کتاب انځورونه په پام کې ونيسي . بيا دې يو خيالي انځور وکاږي او د رنګه کولو په وخت کې دې دوی ته لارښوونه وکړي.

**فعاليت:**

هغه شی مو چې په فکر کې ګرځي هغه انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:**

یو فکري لاسي کار جوړ او ټولګي ته يې راوړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم لوست


## اصلي رنګونه

موخه: د درېوو اساسي رنګونو او دهغو له ترکيب سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**



- د لاند ېنيو درېوو رنګونو څخه کوم رنګونه جوړېدلی شي؟
- رنګونه ولې سره ترکيبوئ؟




**ښاغلی ښوونکی دې:**


زده کوونکو ته درې اساسي رنګونه ور وپېژني او د پورتني شکل په شان دې په دوی باندې عملي کار وکړي. کارونه يې وارزوئ!

**فعاليت:**

زده کوونکي دې د پورتنيو شکلونو په شان رنګونه ترکيب کړي او هغه رنګونه چې لاس ته راځي د هغو نمونه دې واخلي.



(c) ketabton.com: The Digital Library






**کورنۍ دنده:**

داساسي رنګونو د یو ځای کولو د پایلو په باب په خپلو کتابچو کې لنډ معلومات ولیکئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست


## بې طرفه رنګونه

**موخه:** له درېوو بې طرفه رنګونو سره د زده کوونکو بلدېدل.

**پوښتنې:**



- د بې طرفه رنګونو نومونه واخلئ!
- په ټولګي کې مو بې طرفه رنګو نه تر سترګو کېږي؟



**شاغلی ښوونکی دې:**

داسې شکل په زده کوونکو انځور کړي چې بې طرفه رنګو نه په کې کارول شوي وي.




**فعالیت:**


پورتنی شکل په پوره ځیرکتیا سره انځور کړئ!




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library







**کورنۍ دنده:**

درنګونو دارزښت په باب فکر وکړئ اوپه ټولګي کې پرې وغږېږئ!


# یوولسم لوست
## هندسي شکلونه

موخه: د هندسي شکلونو له سکېچ او پرداز ورکولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**



- کومو شکلونو ته هندسي شکلونه وايي؟
- کوم شیان د هندسي شکلونو په شان دي؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**


د پورتنیو شکلونو په اړوند زده کوونکو ته څرګند ونې وکړي او هندسي شکلونه دټولګي په توره تخته انځور کړي او دوی ته دې سپارښتنه وکړي چې پورته شکلونه انځور کړي د پرداز په برخه کې دې لازمه مرسته ورسره وکړي.

**فعالیت:**

زده کوونکي باید د ښوونکي لارښوونې په پام کې ونیسي او پورتني هندسي شکلونه دې انځور او پرداز دې ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

ځوهندسي شکلونه له پرداز سره تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# دولسم لوست

## هندسي شکلونه

**موخه:** د هندسي شکلونو له رنګه کولو سره د زده کوونکو آشناکول.

**پوښتنې:**

- په لاندېنیو انځورونوکې کوم شکلونه وینئ؟
- په لاندې شکلونو کې څو سطحې لیدل کیږي؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**


زده کوونکي په ډلو ووېشي او هرې ډلې ته دې لارښوونه وکړي چې پورتني شکلونه انځور او رنګه کړي. د هرې ډلې کارونه دې د ټولګیوالو ننداري ته وړاندې کړي.

**فعالیت:**

هره ډله دې پورتني شکلونه انځور او رنګه کړي او بیا دې د ښوونکي په لارښوونه خپل رسمونه د ننداري له پاره کېږدي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

يو هندسي شکل انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیار لسم لوست

## ابتکاري شکل

**موخه:** له بېلو بېلو کاغذونو څخه دلاسي کار د جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتني:**

- تر اوسه مو له کاغذ څخه شکلونه جوړکړي وو؟
- هندسي شکلونه دڅه لپاره پکارېږي؟



### ګران ښوونکی دې:


دلاسي کار ونو دجوړولو د وسیلو په راوړلو ځان ډاډه کړي بیادې له بوه کاغذ څخه په ټولګي کې یو لاسي کار جوړ کړي چې زده کوونکي دهغه د جوړولو په طریقه وپوهېږي. په رنګه کولو کې ور سره مرسته وکړي.

### فعالیت:

زده کوونکي دې پورتنی شکل جوړ کړي اوبیا دې هغه په خپله خوښه رنګه کړي



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

له کاغذ څخه یوشی جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# څوارلسم لوست

## د غوايي ککرۍ

موخه: د کورنیو حیواناتو د بېلو بېلو غړو له انځورولو او پرداز ورکولو سره آشنا کېدل.

پوښتنې:

- حیوانات په کومو ځایو کې اوسېږي؟
- له کورنیو حیواناتو څخه څه ګټې اخېستل کېږي؟



ګران ښوونکی دې:

پورتنی شکل د ټولګي په توره دړه انځورکړي او د پرداز ورکولو په زده کړه زده کوونکي وپوهوي. د سیوري او روښنایي په اړه دې دوی ته ځرګند ونې وکړي.

فعالیت:

پورتنی شکل په تتو خطونو انځور کړئ! بیا په نرم پنسل هغه ته پرداز ورکړئ! تر څو سیوری او روښنایي پکې ځرګند شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:**

کورنيو حيواناتو ته په ځېر وګورئ ! د رنګونو په باب يې سباته په ټولګي کې خبرې وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم لوست

## د آس ککره

**موخه:** دکورنیو حیواناتو د اجزاوو له رسمولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې:**

- د حیواناتو په رسمولو کې د کومو رنګونو په کارولو کې مهارت لرئ؟
- کوم ډول حیوانات مو خوښېږي؟



**ښاغلي ښوونکي دې:**


پورتنی شکل په یوه پاڼه کاغذ کې په تتو خطونو انځور او رنګه کړي چې زده کوونکي د رنګونو په کارولو وپوهېږي. د رنګه کولو په وخت کې دې ور سره مرسته وکړي.


**فعالیت:**

د ښوونکي له لارښوونې سره سم پورتنی شکل رسم او په ډېره ځیرکتیا سره یې رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:**

یو حیوان په خپله خوښه انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپاړسم لوست

## ګل

**موخه**: په پنسل باندې د ګلونو له سکیچ او پرداز سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:



- دبېلوبېلو ګلانو نومونه اخیستی شئ؟
- له ګل څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟



**ښاغلیه ښوونکیه**:


په پورتني شکل کې زده کوونکوته داخلي او خارجي خطونه وروښیاست!

د دوی سره په سکیچ کولو کې مرسته وکړئ!



**فعالیت**:

د ښوونکي لارښوونه په پام کې ونیسئ او پورتنی شکل په تتو خطونو انځور او پرداز ورکړئ!



**کورنۍ دنده:**

پردازونه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوو لسم لوست

## ګل

**موخه**: د ګلانو له رنګه کولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:

- تاسې په کور کې کوم ډول ګلونه کرلي دي؟
- کوم رنګ ګل مو خوښېږي؟




**ښاغلی ښوونکی دې**:

د رنګ کولو طریقه، سیوری او دروښنايي په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي اولاندینی فعالیت دې په دوی باندی سرته ورسوي .

**فعالیت**:

د رنګ ترکیب په پام کې ونیسئ او خپل رسم رنګه کړئ او هڅه وکړئ چې د پورتني شکل په شان رنګونه وکاروئ!





**کورنی دنده:**

پورتنی شکل تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست


## د الوتونکو پښې

موخه: دالوتونکو دبدن دغړو له انځورولو او پرداز ورکولو زده کړه.

**پوښتنې:**



- د څو ډوله آلوتونکو نومونه اخیستلی شئ؟
- هغه الوتونکي چې زموږ په هېواد کې پیدا کېږي له نومونوسره یې بلد یاست؟



**ښاغلی ښوونکی:**


د پوښتنو سم ځوابونه زده کوونکوته و وایئ! د سکېچ او پرداز ورکولو په وخت کې ور سره مرسته وکړئ او ددوی کارونه تر پا ملرنې لاندې ونیسئ.


**فعالیت:**

پورتنی شکل سکېچ کړئ او په نرم پنسل پرداز ورکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





## کورنۍ دنده:

یوآلوتونکی انځور کړئ!

## ارزونه:

- سکېچ په تتو خطونو انځور شوی دی؟
- د زده کوونکو د هڅونې کچه؟
- د زده کوونکو دپو هاوي و ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست

## د الوتونکو پښې

موخه: دالوتونکو د بدن د غړو د رنګه کولو زده کړه.

پوښتنې:



- دڅو رنګه الوتونکو نومونه اخیستلی شئ؟
- د الوتونکو رنګونه مو خوښېږي؟



ګرانو ښوونکو!


د الوتونکو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړئ او د رنګه کولو په وخت کې ورسره مرسته وکړئ!


فعالیت:

پورتنی شکل سکېچ او رنګه کړئ د انځور دنظافت په اړوند پوره پاملرنه وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:**

دا لوتونکو په اړه له خپلو لويانو سره وغږېږئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلم لوست

## الوتونکي

**موخه**: په تتو خطونو له سکېچ او پرداز ورکولو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې**:

- کوم الوتونکي خبرې کوي؟
- له الوتونکو سره دانسانانو سلوک باید څه ډول وي؟



**ښاغلوښوونکو!**

دټولګي په توره دړه دپورتني شکل قانونمندي زده کوونکو ته وروښیاست او د پرداز په اړه دوی ته لازمې لارښوونې وکړئ.

**فعالیت**:

زده کوونکي دې پورتنی شکل په ځیر وګوري او بیادې هغه سکېچ کړي او په نرم پنسل دې پرداز ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

یو الوتونکی مرغه انځور او پرداز ورکړئ !



(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو ویشتم لوست

## طوطي

موخه: د الوتونکوله رنګونو او رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتني:



- څو رنګه آلوتونکي پېژنئ؟
- خلک ولې الوتونکي خو ښوي؟



**ګران ښوونکی دي:**

د کورنیو الوتونکو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي او پورتنی شکل دي دټولګي په توره تخته انځور کړي او په رنګه کولو کې دې ور سره مرسته وکړي. دوی ته دي سپارښتنه وکړي چې الوتونکو ته ازار ورنه کړي.

**فعالیت:**

پورتنی شکل انځور او رنګه کړئ او دخپل انځور پاکوالی په پام کې ونیسئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

یوالوتونکی تمرین کړئ!

# دوه ویشتم لوست

## د پاڼو ټاپه کول

**موخه**: په رنګ باندې دونو د پاڼو له ټاپه کولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:



- په بېلو بېلو موسمونو کې د ونو پاڼې کوم رنګونه غوره کوي؟
- د ونو له پاڼو څخه کوم شیان جوړ ولی شئ؟



### ښاغلی ښوونکی دې:

یوه ورځ مخکې زده کوونکو ته ووايي چې په خپله خوښه د ونو ښکلې پاڼې له ځان سره راوړي. تاسې د ونې یوه پاڼه په رنګ ککړه کړئ او په یوسپین کاغذ یې ونښلوئ چې دوی د ټاپه کولو په سیستم پوه شي.




### فعالیت:

زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم او د پورتني شکل په شان پاڼې او رنګونه د ټاپه کولو له پاره وکاروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:**

په کور کې بو ځل بیا پورتنی فعالیت تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درویشتم لوست

## ابتکاري شکل

موخه: په رنګ او پاڼو باندې د آلوتونکي د شکل د جوړېدو زده کړه.

**پوښتنې:**



- د ونو د پاڼو په هکله څه ویلی شئ؟
- د ونو ښکلا په څه کې ده؟



**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکو ته هوه ورځ مخکې سپارښتنه وکړي چې له ځان سره د ونو پاڼې راوړي. د پورتني شکل په شان تاسې د ونو د پاڼو څخه یو الوتونکی جوړ کړئ چې دوی د شکل په جوړېدو کې ورڅخه ګټه واخلي.



**فعالیت:**

زده کوونکي دې د کتاب شکل او د ښوونکي لارښوونه په پام کې ونیسي. د ونو له پاڼو څخه دې یو نوی شکل جوړ کړي.



**کورنۍ دنده:**

پورتنی فعالیت تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور ویشتم لوست

## ډیزاینونه

موخه: د ګلانو له پاڼو څخه د ډیزاینونو د جوړ ولو زده کړه.

پوښتنې:

- له ګلپاڼو څخه مو ډیزاینونه جوړ کړي دي؟
- خلک ولې ګلان خوښوي؟





**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکوته یوه ورځ مخکې سپارښتنه وکړي چې له ځان سره د ګلانو پاڼې راوړي. تاسې د پورتني شکل په شان د ګلانو د پاڼو څخه یو ډیزاین جوړ کړئ چې دوی په عملي توګه ستاسې کار ووینې.


**فعالیت:**


د ګلانو له پاڼو څخه یو نوی ډیزاین جوړ کړئ!




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library









**کورنۍ دنده:**

یوځل بیا پورتنی فعالیت تمرین کړئ!

# پنځه ویشتم لوست


## ډیزاین

**موخه**: له بېلو بېلو ډیزاینونو او د هغه له انځور ولو سره دزه کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې**:



- په پخوانیو ټولګیو کې مو کوم ډیزاینونه زده کړي وو؟
- که په ډیزاینونو کې مو مهارت پیدا کړی وي له هغو څخه څه ډول ګټه اخلئ؟



**ګران ښوونکی دې**:


پورتنی شکل د ټولګي په توره تخته و کاږی ! د هغه د سیوري او روښنایي په اړه زده کوونکو ته څرګند ونې وکړئ او ددوی کارونه وارز وئ.

**فعالیت**:

زده کوونکي دې پورتنی شکل په خطونو انځور او پرداز دې ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**
تاریخي ډیزاینونه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ ویشتم لوست

## رنګه ډیزاین

موخه: د ډیزاینونو له رنګه کولو او زده کولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**



- تاسې دخپل چاپېریال د ډیزاینونو په اړه څه معلومات لرئ؟
- داسلامي دورې ډیزاینونه په کومو ځایوکې کارول کېږي؟



**ګران ښوونکی:**


دهغو ډیزاینونو په هکله چې په ګران افغانستان کې کارول کېږي زده کوونکو ته څرګند ونې وکړئ او دهغو درنګه کولو لارې چارې دوی ته ور زده کړئ. دوی ته ووایئ چې د سفرونو په وخت کې په هر ځای کې چې ډیزاینونه ووینې خپلې حافظې ته یې وسپاري.

**فعالیت:**

پورتنی شکل لومړی انځور او بیا یې رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

یو ډیزاین پرله پسې تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه ویشتم لوست


## ډیزاین

موخه: د بېلو بېلو ډیزاینونو له انځور ولو او رنګه کولو سره آشناکېدل.

**پوښتنې:**



- آیا کولی شئ چې خیالي ډیزاینونه وکاږئ؟
- ستاسو د طرحو پایلې به څه شی وي؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**

زده کوونکو ته وخت ورکړي چې څو شېبې فکرو کړي او بیا دې د فکر کولو پایلې د یوه سپین کاغذ په پاڼه باندې وکاږي او انځوردې کړي. او تاسې له دوی سره همکاري وکړئ.

**فعالیت:**

دخپل فکر پایلې په یوه سپین کاغذکې انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

له خپل فکر څخه ډیزاینو نه انځور کړئ!

# اته ویشتم لوست

## افغاني جامې

موخه: د افغاني جامو له انځور ولو او رنګه کولو سره دزده کوونکو بلدېدل.

**پوښتنې:**



- په کور کې څه ډول جامې آغوندئ؟
- هغه شیان چې په افغاني جامو کې کارول کېږي کوم دي؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**


پورتنی شکل په ساده کرښو د ټولګي په توره تخته سکېچ کړي او بیا د سیمه ییزو کلیوالو او وطني جامو په هکله زده کوونکو ته څرګند ونې وکړي او په انځور ولو کې دې مرسته ور سره وکړي.

**فعالیت:**

د ښوونکي له لارښوونې سره سم پورتنی شکل سکېچ او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:**

له مور او پلار څخه مو د سيمه ييزو کليوالي جامو په هکله پوښتنې وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه ویشتم لوست

## تاریخي آثار

**موخه:** د تاریخي آثار و پېژندنه او د هغو له رسمولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنه:**



- د ګران هېواد د تاریخي آثار و نومونه اخیستلی شئ؟



**ګرانو ښوونکو!**

د تاریخي آثار و په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړئ او د رسمولو طریقه د ټولګي په توره تخته دوی ته د خطونو په واسطه وښیاست.

**فعالیت:**

پورتنی شکل لومړی په تتو خطونو انځور او بیا داسې پرداز ورکړئ چې سیوری او روښنایي په کې وبرېښي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیرشم لوست


## تاریخي آثار

موخه: د منارو له انځورولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

**پوښتنې:**



- منارونه له کوم ډول تاریخي آثارو څخه دي؟
- د کومو منارونو نمونه اخېستلی شئ؟



**ښاغلی ښوونکی:**

زده کوونکي په ډلو ووېشئ او د تاریخي آثارو د ستاینې او ځانګړتیا ووېه اړوند معلومات ورکړئ!

**فعالیت:**

پورتنی شکل په غور سره په پام کې ونېسئ او په سکېچ کولویې پیل وکړئ له رنګه کولوڅخه وروسته خپل کارونه نورو ډلو ته وښیاست او په ټولګی کې یې د ننداري له پاره وځړوئ!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**